# نبوت

په الهي نړۍ لید کې،پېغمبرانو ته د انسان اړتیا څرګنده ده .که هستي موخه لري او په خپل بهیر کې پر سمه روانه وي؛نو انسان هم چې د نړۍ یوه برخه ده،باید څرګنده او له هر ډول خطا پاکه لار ولري او که داسې نه وي؛نو نیمګرغه به نشي .
په توکیز نړۍ لید کې،چې د نړۍ لپاره موخه نشته او انسان هم بې له پخوانی وندهې او طرح جوړ شوی او تر څه مودې وروسته به له منځه ولاړ شي؛نو په دې نړی لید کې د نبوت خبره نوموتي نه ده .

## انبیاوو ته د اړتیا دلیلونه

١_د هستۍ موخه درلودل

په الهي نړۍ لید کې،هستي موخه لري او انسان هم د هستۍ یوه برخه ده او هستي انسان ته جوړه شوې ده (١) او په واک کې يي ده (٢)؛نو داسې خو نشي کېدای ،چې انسان په هستۍ کې ایله او سرخوشې وي .

فرض کړئ د یو ښوونځي پرانستلو ته ټول امکانات وي؛لکه لابراتوار، کتابتون،علمي امکانات او ...... او زده کوونکي هم په ټولګي کې ناست وي؛خو ښوونکی نه وي؛نو دا ټول کارونه به بې ځایه او بې ګټې وي .

٢_د هستۍ حرکت

ارواښاد علامه طباطبایي وایي : بېشکه ټوله هستي یو حرکت لري. پر دې مانا،چې ټول موجودات پخپله وده کې شکمن نه دي او په پای کې ودې او کمال ته رسي؛نو په دې بڼه کې آیا سمه ده،چې انسان حیران وي؟ اړنګ نشته،چې انسان هم باید بې له خطا او ځېځپاندۍ - تزلزل لار ولري،چې وربانديې پر تلو یې کمال ته ورسي او دا لار حکیم او عادل خدای هماغسې،چې نورو موجوداتو ته ښوولې ده، انسان ته یې هم ښوولې ده؛خو کوم توپیر،چې انسان له نورو موجوداتو سره لري،دا دی چې انسان کړای شي پر دې لار ولاړ شي او یا یې پرېږدي .

٣_ د خدای پېرزوینه

خدای د خپلې پېرزوینې له مخې (٣) خپلو بندګانو ته لار ښیي او د الهي پېغمبرانو او اسماني کتابونو رالېږل هم ستره الهي پېرزوینه ده؛لکه څنګه چې په قرآن شریف کې وایو : ((**إِنَّ عَلَيْنَا لَلْهُدَى** = په یقین چې لارښوونه یوازې زموږ(پرغاړه) ده)) (٤)

خدای خبر دی،چې د انسان د تګ پر بهیر ډول ډول کږې لارې شته، شیطانان ورته پټ دي او ځاني غوښتنې یې هرې خوا ته راکاږي؛ نو تاسې وویاست،چې آیا مهربان خدای به انسان بې له کوم لارښوده پرېږدي؟

٤_د انسان ناپوهي

په دې خو ټول خبر دي،چې انسان د ځان او هستۍ په هکله خورا لږ معلومات لري؛خو مجهولات يې ډېر دي؛نو بشر ښوونکي ته اړتيا لري،چې خپل مجهولات کم او معلومات ډېر کړي .
کېدای شي،ذهن ته دا خبره هم راشي،چې د وخت په تېرېدو د انسان معلومات ډېرېږي؛نو پيغمبرانو ته اړتيا نه لري،په ځواب کې بايد ووېل شي :که څه هم د وخت په تېرېدو انسان پر يو لړ خبرو پوهېدای شي؛خو دا معلومات ورته بسيا نه دي،چې لاندې آيت له دې حقيقته پرده اوچته کړې: ((**وَيُعَلِّمُكُم مَّا لَمْ تَكُونُواْ تَعْلَمُونَ**)) (٥)؛يعنې پر څه چې نه پوهېدای،خدای درته وښوول.
دا آيت وايي، داسې څيز نشته،چې تاسې پرې نه پوهېږئ !تاسې په خپله وویاست،چې بشر به څنګه وکړای شي پخپلو محدودو ماغزو د برزخ او قيامت پر پېښو پوه شي؛نو پوه شئ، چې دا کار يوازې د انبياوو کار دی.
مرحوم علامه طباطبايي وايي :ما د قُم ملايانو ته دوه دورې د فلسفې درس ووايه او په دواړو دورو کې،چې د معاد وېينې ته ورسېدم؛نو تم شوم؛ځکه د معاد آر پر فلسفه جوتولای شو؛خو بې له وحې او الهي پېغمبرانو به څنګه د معاد د پېښو په هکله خبرې وکړو.

## د انبياوو لار د انسانانو پخوانۍ غوښته وه

عدالت غوښتنه د انسان له طبيعي هيلو ده او د تاريخي لاسوندونو- شواهدو له مخې ددې ډول حکومتونو څرګنده بېلګه،يوازې په انبياوو او په عادلانه نظام کې يې او په هغوی کې ليدل شوي،چې د دين له پلوه انبياوو ته نږدې ول او دې طبيعي غوښتنې ته يوازې د انبياوو ليکه مثبت ځواب ورکولای شي.

پر نبوت نه ګروهه د خدای د نه پېژندنې نښه ده
خدای ټوله نړۍ د انسان ګټنې ته پيدا کړې او موږ ټول يې تلپاتې نېکمرغۍ ته خپل عبادت ته رابللي يو او ددې خبرې په پامنيوي،چې موږ لار نه پېژنو او د لارې په ټاکنه کې تېروځوو او پر لار د تګ پر مهال پر خطاګانو،شيطاني وسوسو او کږلاريو ککړېږو؛نو دلته زموږ کوربه لوراند خدای دی؛نو که د پېغمبر په څېر مشر د معجزې په څېر له څراغ سره او د قرآن په څېر له بشپړې ونډهې سره را و نه لېږي؛نو خدای چې کومې بلنې راکړې،بې ځايه به وي.
د پېغمبرانو له رالېږلو نهايي موخه د واقعي تکامل پر لور د انسان حرکت دی او هر حرکت مبدا،مقصد او د لارې مشر او وسيلې ته اړتيا لري او په دې ټولو اړتياوو کې مشر ته اړتيا تر ټولو ضروروي چار دی؛ ځکه که مشر نه وي؛نو هم به لار ورکه کړو او هم موخه او هم به له وسيلو په خپل ځای کې ګټه وانخلو .
د قرآن شريف د وينا له مخې : ((أَ**فَحُكْمَ الْجَاهِلِيَّةِ يَبْغُونَ وَمَنْ أَحْسَنُ مِنَ اللهِ حُكْمًا لِّقَوْمٍ يُوقِنُونَ** (مائده/١٥٠)= ايا( له تا) د جاهليت حکم او پرېکړه غواړي ؟! حال دا چې منونکې ډلې ته به د خدای له پرېکړې د چا پرېکړه غوره وي؟ ))(٦)

خدای ترټولو پوه دی،هغه پیدا کړي یو او د هر څه جوړونکی د خپل جوړ شوي په هکله بشپړ معلومات لري .
قرآن شریف وايي : ((**أَلَا يَعْلَمُ مَنْ خَلَقَ وَهُوَ اللَّطِيفُ الْخَبِيرُ(ملک/۱۴)**= آیا چا چې (موجودات) پیداکړي دي، د هغوی له حاله خبر نه دی؟ حال دا چې هغه (له دقیقو رازونو) خبر دی.)) (۷)
تاسي پخپله وویاست،چې څنګه به داسې وشي،چې حکیم خدای ټول موجودات انسان ته پیدا کړي؛خو انسان بې له کومې کړلارې خوشې او ایله پر خپل حال پرېږدي؟ آیا دا چار د حکمت پر خلاف نه دی؟که څوک داسې فکر کوي؛نو سمه خبره خو دا ده،چې خدای یې سم نه دی پېژندلی.

## آیا د علم او عقل لارښوونې بسیا دي ؟

اسلام عقل او پوهې ته ډېر ارزښت ورکړی تردې،چې عقل د انسان دننني پېغمبر ګڼي او د انسانانو سزا او ثواب یې د هغوی د عقل پر بنسټ ټاکلي ده . قرآن شریف، ټول اندنې ،تعقل او تدبر ته رابللي او په ډېرو آیتونو کې خو یې یوازې د عقل او فکر خاوندان مخاطب دي.
څه چې اسلام د پوهې د ارزښت په هکله د جاهلیت پر مهال ویلي ول،تر اوسه یوعالم هم په یو ځای کې،هغه ته ورته نه دي ویلي.
تاسې د یو مکتب خاوند پیدا کړئ، چې د پوهې د زده کړې موده یې له زانګو تر مړینې ټاکلي وي او ان خپل مخالف هم ښوونکي ټاکي او زده کړې ته لرې لرې مسافرتونو ان تر اسمان پورې پراخوي؛خو له دې ټولو سره،علم او عقل کله هم نشي کړای د انبیاوو ځای ونیسي او له پېغمبرانو مو مړه خوا کړي .

### د علم د نیمګړتیا دلیلونه

الف: د انسان د علم محدودیت
هره ورځ وینو،چې په دنیا کې پوهنځي زیاتېږي او انسان ډول ډول اختراعات او اکتشافات کوي؛خو انسان خپل عقل او علم ته پرېښوول په حقیقت کې هغه په کنده کې ګوزارول او ګنګسول یې دي؛ځکه د خلکو پوهه او علم سره توپیر لري . ډېر خلک یو څه د ځان په ګټه ګڼي؛ خو نور یې په خپل تاوان . هو ! د انسان پوهه لږه ده . نه له تېرو سم خبر دی او نه له راتلونکي او نه د خپلو کړنو له چټک او ورو ورو غبرګونونو خبر دی. څومره ښه یې ویلي دي،چې د انسان پوهه د هغه د ناپوهۍ په پرتله لکه څاڅکي چې سمندر ته وي .

ب: د معرفت په لار کې د خنډونو ډېروالی
انسان هله پر حق پوهېدای شي،چې د معرفت په لار کې ورته خنډونه نه وي. انسان د عقل، فکر او پوهې په درلودو کله داسې د غریزو په توپانو کې راګېر شي،چې د واقعیت په پېژندو کې سرګردان

شي او لار تري ورکه شي . ډېر داسي باطل دي،چي حق راته ښکاري او ډېر داسي حق،چي باطل راته ښکاري.

داچي انسان د غريزو په ځاله کي راښکېل دی او واقعيتونه نه ويني او کله هم د سمي پوهېدني پر خلاف عمل کوي؛نو انسان د قانون جوړوني حق نه لري .

قرآن شريف وايي : ((**إِنِ الْحُكْمُ إِلاَّ لِلّهِ**)) (٨).

ج: په پوهېدو کي ځنډ

کله د وخت په پيدا کېدو او د علم په پرمختګ يو لړ واقعيتونو ته رسي؛ خو دا د کلونو د ځنډ ګناه به د چا پر غاړه وي ؟ د ساري په توګه: تقريباً نيمه پېړۍ کېږي،چي انسان پوه شوی،چي د سرکوزي د غوښي خوړل د کدو داني او د ((تريشين)) د چنجي لامل ګرځي؛خو هغوی،چي د وحي له لاري د سرکوزي د غوښي له حراموالي خبر ول؛پېړۍ پېړۍ دي،چي له دې ګواښه ژغورل شوي دي.د اسلام د سپېڅلي دين ډېر داسي احکام او اسرار دي،چي له اسرارو يي د وخت په تېرېدو علم پرده اوچته کړې ده؛خو د انبياو لارويان له هماغه پيله په داسي پېراو کي واقع شول،چي د علم او تجربي پر بنسټ عالمان ورته تر پېړيو وروسته ورورسېدل .

پر معنوياتو پوهېدنه

انسان په خپل عقل،علم،مشورې او څېړونو يوازې کړای شي د محسوسو توکيزو چارو په هکله ګام اوچت کړي او ځان ته لار وټاکي؛خو له تلپاتي نېکمرغی،مانيزې ودې او اروايزې روزني ته انسان لاس رسي نه لري ،چي بې له وحې او انبياو بله لار نه لري .

## د قانون جوړوونکي ځانګړني

١_د انسان پر ټولو ظاهري او باطني اړتياوو پوه وي .

٢_پر انسان ولورېږي .

٣_بشپړ عدالت ولري او پر حقيقت او سازښت-مصلحت خپلي غوښتني غوره وګڼي.

نو ښکاره خبره ده،چي داسي يو قانونګذار بې له څښتنه بل څوک نشي کېدای،چي لارښووني او پيغامونه د انبياوو له لاري انسانانو ته رالېږي.

## د انبياوو په هکله د قرآن شريف وينا:

د عقل له پلوه،چي مو انبياوو ته پر اړتيا رڼا واچوله؛نو اوس به هم د قرآن شريف څو آيتونو ته اشاره وکړو :

((**وَلِكُلِّ أُمَّةٍ رَّسُولٌ فَإِذَا جَاء رَسُولُهُمْ قُضِيَ بَيْنَهُم بِالْقِسْطِ وَهُمْ لاَ يُظْلَمُونَ** ( یونس/۴۷)= او هر امت ته یو استازی وي او چې کله يې استازی راشي؛ نو ترمنځ يې په انصاف سره پرېکړې کېږي او هېڅ ډول تېرى به پرې ونشي.)).

- ((**وَإِن مِّنْ أُمَّةٍ إِلَّا خلَا فِيهَا نَذِيرٌ** (فاطر/۲۴)= او هېڅ داسې امت نه و؛ خو داچې خبروونکی پکې تېر شوی دی.)) (۱۱)

((**لِّيَهْلِكَ مَنْ هَلَكَ عَن بَيِّنَةٍ وَيَحْيَى مَنْ حَيَّ عَن بَيِّنَةٍ** (انفال/۴۲) = هغوی چې هلاك (اوبې لارې)کېږي په ښکاره دلیل سره هلاك شي او هغوی چې ژوندي کېږي (او سمه لار مومي) له څرګند دلیل سره ژوندي پاتې شي)) (۱۲). هو ! باید لار روښانه وي،چې انسان يې له پوهې او پوره ازادۍ سره وټاکي .

(( **رُّسُلًا مُّبَشِّرِينَ وَمُنذِرِينَ لِئَلاَّ يَكُونَ لِلنَّاسِ عَلَى اللهِ حُجَّةٌ بَعْدَ الرُّسُلِ** (نساء/۱۶۵) =( دا ټول) پیغمبران زېري ورکوونکي او وېروونکي لېږل شوي ول،چې د پیغمبرانو (تر لېږلو) وروسته خلکو ته د خدای په مقابل کې پلمه نه وي (او پر ټولو غاړه خلاصه شي) (۱۳).

## د انبیاو د پېژندو لار

د انبیاو د پېژندو لپاره درې لارې دي:

۱_معجزه .۲_د انبیاوو د تېرو کارونو،حالاتو او کارنامو څېړنه .۳_د تېرو پیغمبرانو یادونې .

معجزه : څوک چې وايي خدای راته ستاسې د لارښوونې دنده راکړې او د هستۍ له خاوند او بې نهایته ځواک سره په اړیکه کې یم؛نو باید داسې کار وکړي،چې نور ترې بېوسې وي او له دې لارې خپله خبره جوته کړي،چې په رښتیا له بلې نړۍ سره په اړیکه کې دی،چې دې عمل ته معجزه وایي .

[ژباړن : پردې مطلب لا پوهېدو ته د سترعالم ابوالقاسم خويي د " قرآن پوهنه کتاب" ولولئ،چې په پښتو هم چاپ شوی دی.]

هر الهي پیغمبر د خپل حقانیت جوتولو ته معجزه او معجزې درلودې؛لکه :

۱_حضرت داود(ع) ته د اوسپنې نرمېدل: ((**وَأَلَنَّا لَهُ الْحَدِيدَ**))(۱٤).

۲_حضرت سلیمان ته د باد تابعېدل:((**فَسَخَّرْنَا لَهُ الرِّيحَ تَجْرِي بِأَمْرِهِ**)) (۱٥).

۳_حضرت صالح (ع) ته له غره د اوښې راوتل. ((**إِنَّا مُرْسِلُو النَّاقَةِ**))(۱٦)

٤_پر ښامار د حضرت موسی د همسا بدلېدل.((**فَإِذَا هِيَ ثُعْبَانٌ مُّبِينٌ**))(۱۷).

٥_د حضرت عیسی په لاس د مرغۍ جوړېدل. ((**أَنِّي أَخْلُقُ لَكُم مِّنَ الطِّينِ كَهَيْئَةِ الطَّيْرِ فَأَنفُخُ فِيهِ فَيَكُونُ طَيْرًا بِإِذْنِ اللهِ وَأُبْرِئُ الأكْمَهَ والأَبْرَصَ وَأُحْيِي الْمَوْتَى بِإِذْنِ اللهِ**))(۱۸).

د انبیاوو کار له مخترعانو،مرتاضانو،کوډګرو،جادوګرانو او پهلوانانو سره څه توپیر لري؟ هغوی هم یو لړ داسې کارونه کوي،چې نور يې نشي کړای؛نو ولې ورته پیغمبران نه ویل کېږي؟!

۱_ دا خلک په دې باب روزل شوي؛ خو انبیاء ښوونکي نه لري .

۲_ د دوی کارونه د تمرین پایله ده ؛خو انبیاء داسي نه ول.هغه پهلوان که درانه درانه وزنونه پورته کوي؛نو دي ځای ته تر کلونو کلونو تمرین وروسته رسېدلي دي. هغه خلک،چې له حضرت صالح څخه راتاو شوي وو؛نو ورته يې وويل،چې که ته له الهي قدرت سره په اړیکه کې يې؛نو همدا اوس له دغو ځانګړونو سره اوښه له غره را اوباسه؛نو حضرت صالح ورته ونه ويل: لږ صبر وکړئ،چې تمرین يې وکړم او زده يې کړم ؛ نو بیا به دا کار وکړم او پردې سرېږه، اصولا دا کار په تمرین هم ترسره کېدای نشي.
۳_ ددې خلکو د کار موخه مادي ده. که پهلوان درانه وزنونه پورته کوي،جادوګر جادو کوي؛نو د خلکو د پام راګرځولو او مادیاتو ته وي؛ خو د انبیاوو موخه د غښتلي انسان او ټولنې جوړول دي.
٤_داخلک تېروتوونکي او ګناهکاران دي؛خو الهي انبیا سپین لمني دي او په خپل ژوند کې هېڅ ډول نیمګړتیا نه لري .
٥_جادوګر،پهلوان او .... هېڅکله نه وايي،کوم کار چې کوم،بل يې نشي کړای او د سیال رابللو مړانه هم نه لري ؛خو الهي انبیاء ښه په پوره ډاډ وايي :کوم کار،چې کوو،بل يې نشي کړای.
ځکه د الهي پېغمبرانو او د نورو سترګو غولونکیو په چارو کې هم د موخې او هم د عمل له پلوه خورا توپیرونه دي .

## نندارتون نه ؛بلکې معجزه

آیا هره معجزه به چې خلکو غوښته؛نو انبیاوو به ترسره کوله؟

کله به يې ويل : که ته پېغمبر يې؛نو خدای موږ ته راوړه ! ((**تَأْتِيَ بِاللّهِ**)) (۱۹)؛نو ددې خبرې په پامنیوي،چې خدای جسم نه دی؛نو دا کار شونی نه و.

کله يې ويل : که ته پېغمبر يې؛نو اسمان ټوټې ټوټې کړه او پر موږ يې راګوزاره کړه : ((**أَوْ تُسْقِطَ السَّمَاء كَمَا زَعَمْتَ عَلَيْنَا كِسَفًا**)) (۲۰) او کله يې ويل: که ته پېغمبر يې ؛نو کور دې باید له سرو زرو جوړ شوی وي.(( **أَوْ يَكُونَ لَكَ بَيْتٌ مِّن زُخْرُفٍ**)) (۲۱) او یا داچې د ډول ډول ونو، انګورو او کجورو بڼ ولرې : ((**أَوْ تَكُونَ لَكَ جَنَّةٌ مِّن نَّخِيلٍ وَعِنَبٍ**)) (۲۲). آیا د بڼ او مانۍ درلودل له خدای سره په اړیکه توب دلالت کوي؟مګر فرعونانو،قارونانو او نمرودانو دا هرڅه نه درلودل؛نو آیا هغوی له خدای سره په اړیکه کې وو ؟

نو پردې بنسټ معجزه يوازې هغه ده،چې له ستر خدای سره د پېغمبر اړیکه څرګنده کړي او داسې نه ده،چې هر چا ته په هر وخت کې د هر چا په خوښه،هره شېبه پېغمبران معجزه وکړي.

## په معجزه کې سنخیت

داچې حضرت موسی علیه السلام په یو داسې وخت کې پېغمبر وګمارل شو،چې د جادو او کوډو بازار ګرم و ؛معجزه يې د ښامار همسا کېدل و.

داچي د حضرت عیسی په وخت کې د ناروغیو درمل او طبابت پر مخ تللی و؛نو هغه به د خدای په امر مړي را ژوندي کول او زموږ د خپل ګران پیغمبر (ص) په وخت کې شعر پر مخ تللی و؛نو معجزه یې کلام وه . دا له یوه پلوه او له بله پلوه داچي تلپاتي نړیوال دین تلپاتي نړیوالي معجزې ته اړتیا لري او قرآن شریف زموږ د پیغمبر (ص) تلپاتي معجزه ده،چې د پیغمبر(ص) په مړه کېدو معجزه یې له منځه ولاړه او پر خپل حال پاتي ده .

دویمه لار: د لاسوندونو او د انبیاوو د کارونو او حالاتو څېړنه

د خدای استازی څوک و؟ هم ُامي، هم نالوستی او هم امین و .ولې یې د کفر،شرک،بوت پالني،تفرقې او خرافاتو په پلازمېنه کې راپاڅېد او د فساد او تباهۍ پر خلاف یې پرېکنده مبارزه وکړه؟ څوک یې لارویان شول ؟د خدیجې بي بي په څېر مېرمن او د علي ابن ابي طالب په څېر سړی،چې د کمال،عظمت،اخلاص او پاکۍ دوه غوره بېلګې دي.

د پیغمبر (ص) مخالفین ستر ځواکونه،ځان مني،مستکبرین، زبېښونکي او زور متي ول. د خدای استازی یوازې د حق پر لار روان و. له چا سره یې د مادیاتو ژمنه و نه کړه.په ریا،دوکه او غلطو لارو یې خپل دین ته پراختیا ورنه کړه . وینا یې د قرآن شریف سپېڅلي احکام ول او روزل شوي یې د سلمان ،ابوذر او مقداد په څېر اصحاب کرام وو. رښتیا که زموږ پیغمبر چېرته معجزه هم نه درلوده؛نو د هغه د ژوند حالات او موخه د هغه پر صداقت ستر ګواه دي .

دریمه لار: د تېرو پیغمبرانو یادونې

پیغمبر (ص) راغی،ویې ویل :زه هماغه پیغمبر یم ،چې نوم او نښې مې په تورات او انجیل کې راغلي دي .

په قرآن شریف کې راغلي: ((**يَجِدُونَهُ مَكْتُوبًا عِندَهُمْ فِي التَّوْرَاةِ وَالإِنْجِيلِ**)) (۲۳) هغوی پخپلو کتابونو کې د خدای د وروستي استازي نوم موندلی و. د اسلام د پیغمبر راتګ د نورو ادیانو لارویانو ته دومره څرګنده و،چې په دې هکله قرآن شریف وایي : ((**يَعْرِفُونَهُ كَمَا يَعْرِفُونَ أَبْنَاءهُمُ** ))(۲٤) هغوی هماغسې،چې خپل اولاد پېژانده،د خدای استازی یې هم پېژانده؛خو سره له دې ټولو،یهودانو په جګړو لاسونه پورې کړل او مسیحیانو خورا جزیې ومنلې .داچې که دا خبره یې په کتابونو کې نه وه؛نو په ډېره اسانه به د خدای په استازي (ص) پسې راپاڅېدلي ول او نه یوازې پر هغه به یې ایمان نه راوړ؛بلکې ورته به یې دروغجن وایه؛نو هغه جګړې،جزیې او تاونونه،چې هغه مهال د اسلام دښمنانو وزغمل ددې خبرې پخلی کوي،چې زموږ د پیغمبر (ص) نوم او نښې د هغوی په اسماني کتابونو کې راغلي وې؛ خو نن یې پکې بدلون راوړی دی .

## قرآن شریف د اسلام د ستر پیغمبر ستره معجزه

دا کتاب ۱۱٤ سورتونه او تقریباً ۷۸۰۰۰ ټکي لري (۲۵).

خدای په دې کتاب کې څو ځل خپلو مخالفانو ته بلنه ورکړې،چې ددې ټولو جګړو،تبلیغاتو او تورونو پر ځای رامیدان ته شئ او د قرآن شریف په څېر یو کتاب راوړئ.

۱_((**هَذَا الْقُرْآنِ لاَ يَأْتُونَ بِمِثْلِهِ**)) (۲٦)؛يعني نشئ کړای د قرآن شريف په څېر راوړئ.
۲_((**لَّئِنِ اجْتَمَعَتِ الإِنسُ وَالْجِنُّ**))(۲۷) ان که انسانان او پيريان سره يوځای شي.
۳_((**وَلَوْ كَانَ بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ ظَهِيرًا**))(۲۸)؛يعني که (په دې چار کې) څومره يو د بل لا سنيوی وکړي
٤_(( **إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ**)) (۲۹) که رښتيا وياست .
٥_(( **وَادْعُواْ مَنِ اسْتَطَعْتُم...**))(۳۰)؛يعني له الله پرته هرڅوك ( ددې کار لپاره ) راوبولئ .
حضرت علي (ک) سره له دې،چې په عربو کې تر ټولو فصيح او خوله ور و؛ خو بيا هم که د ويناوو په ټولګه (نهج البلاغه) کې يې کوم وړوکی آيت هم وليدل شي؛نو د وينا په پرتله يې روښانه ځلېږي،چې پخپله همدا د قرآن شريف اعجاز دی،چې د قرآن شريف ټکي هماغه عربي ټکي دي؛خو د جملو جوړښت او سور يې داسې دی،چې په دې څوارلس پېړيو کې لا چا هم د قرآن شريف ورته نه دي راوړی او را به يې هم نه وړي.
د قرآن شريف د اعجاز نښه دا ده، سره له دې چې له علم او پوهاوي ډک دی؛خو راوړونکی يې نالوستی انسان دی.
چېرته،چې د علم او وحي ترمنځ مخالفت ليدل کېږي؛نو يا هغه علم په حقيقت کې علم نه دی او يوازې يو نظر او حدس دی او يا له وحي مو برداشت او پوهېدنه سمه نه ده،ګني سل په سلو کې علمي مسئله هېڅکله له وحي سره مخالفېدای نشي .
په قرآن شريف کې داسې آيتونه شته،چې د راتلو پر مهال يې په بشپړه توګه د غيبو وړاندوينه وه او ډېر وخت لا تېر شوی نه و،چې پلي شو .
بله مسئله داچې د هر عادي انسان کړنې د وخت په تېرېدو وده کوي؛ خو د قرآن شريف آيتونه داسې نه دي . هغه آيتونه،چې له پيغمبر (ص) څخه د بعثت په ړومبي کال کې اورېدل شوي ول او هغه چې له پيغمبر (ص) څخه په درې شپېته کلنۍ کې اورېدل شوي ول؛نو ټول د وزن او منځپانګې له پلوه يو شان ول .
د پيغمبر (ص) سليقه او نظر نه و اوختی،په مطالبو کې يې بيا کتنه نه وه کړې،تل يې د موخې په هکله خبرې کولې او دا ټول راښيي،چې قرآن شريف د خدای له لوري دی. هغه خدای چې هېڅ ډول بدلون،بيا کتنه او تجربه يې په قانون کې لار نه لري؛لکه څنګه چې خدای هم د نساء د سورت په دوه اتيايم آيت کې دې خبرې ته اشاره کړې ده : ((**أَفَلاَ يَتَدَبَّرُونَ الْقُرْآنَ وَلَوْ كَانَ مِنْ عِندِ غَيْرِ اللّهِ لَوَجَدُواْ فِيهِ اخْتِلاَفًا كَثِيرًا** ( نساء/۸۲) = ايا دوی د قرآن د ماناوو په باب نه ځيرېږي ؟! که دا له ((الله )) پرته د بل چا له لوري وای؛ نو هرومرو به يې پکې ډېر اړپېچ موندلای .
د قرآن شريف د تحريف او اړوني شبهې ته په ډېرو آيتونو کې ځواب ورکړل شوی دی،چې موږ يې دوه را اخلو :
۱_((حجر/۹)= په حقيقت کې موږ قرآن پخپله نازل کړی دی او بېشکه،چې موږ يې پاسوالان يو))
(۳۱)

۲_(( **لَا يَأْتِيهِ الْبَاطِلُ مِن بَيْنِ يَدَيْهِ وَلَا مِنْ خَلْفِهِ تَنزِيلٌ مِّنْ حَكِيمٍ حَمِيدٍ** (فصلت/۴۲) = چې باطل پرې نه مخامخ راتلای شی او نه له شا؛(ځکه دا) د حکیم ستایل شوي (خدای) له لوري رالیږل شوی دی .)) (۳۲)

## د قرآن شریف امتیاز

۱_ قرآن شریف تل د ټولو لپاره د ګټنې وړ دی .

۲_د اسلام د معجزې مواد ټکي دي،چې خلک پرې هره ورځ خبرې کوي.

۳_قرآن شریف هم معجزه ده او هم اسماني کتاب.

٤_ د نورو پیغمبرانو معجزې له یو اړخ معجزې وې؛خو قرآن شریف د علامه مجلسي د وینا له مخې، له پینځلس اړخو او د علامه طباطبایي د وینا له مخې له یوولس اړخو معجزه ده؛لکه عددي اعجاز.

الف: د ((یوم)) ټکی د ورځې په نامه دی چې ۳٦٥ ځل په قرآن شریف کې راغلی دی.

ب: د ((شهر)) ټکی د میاشت پر مانا ۱۲ځل او ((ساعة )) ۲٤ ځل راغلی دی .

ج: د ((دنیا)) او (( اخرت)) ټکي یو هومره په قرآن شریف کې راغلي دي .

د: (رجل)) د سړي پر مانا او ( (مراة )) د ښځې پر مانا دي، چې یو هومره په قرآن شریف کې راغلي دي.

پر قرآن شریف سم ځان پوهول پکار دي

ډېر خلک ناسم انګېرې،چې قرآن شریف یوازې عبادي او اخلاقي کتاب دی؛نو باید پوه شو،چې ددې آسماني کتاب یوازې یو پر پینځلسمه برخه د فقهي مسئلو په هکله ده او نور یې د کورنۍ ،ټولنې، سیاست، پوځي چارو،سیاست، ګروهو، تاریخ، فرهنګ او..... چارو په اړه دي.

### قرآن شریف د سنجش او کچې وسیله ده

قرآن شریف میزان،کچه او معیار دی،د سنجش وسیله ده،موږ ته ویل شوي : معیار مو باید قرآن شریف وي. هر حدیث مو که ولید او یا مو واورېد؛نو له قرآن شریف سره یې وسنجوئ؛ نو که له قرآن شریف سره یې سمون خوړ؛ و یې منئ،که داسي نه وه؛نو مه یې منئ (۳۳) نه یوازې حدیث؛بلکې هره وینا او لیکنه باید له قرآن شریف سره وسنجول شي . ټول ارزښتونه باید له قرآن شریف سره وسنجول شي . هو! قرآن شریف ((**تِبْيَانًا لِّكُلِّ شَيْءٍ**)) (۳٤) دی . د هر څه روښانوونکی او بیانوونکی دی او څه چې ((**تِبْيَانًا لِّكُلِّ شَيْءٍ**)) وي؛نو پخپله تبیان هم دی؛نو د قرآن شریف تر ټولو غوره مفسر پخپله قرآن شریف دی او بیا د خدای استازی او اهل البیت یې.

## د انبياوو ځانګړنې

الهي انبياء يو لړ ځانګړنې لري،چې د هغوی د معرفی او موخو پلي کولو ته ګټور دي،چې موږ يې څو ته اشاره کوو .

۱_معجزه:

معجزه يو له هغو ګټورو او محسوسو اوزارو ده،چې انبياوو درلوده، چې په دې اړه مو مخکې خبرې وکړې.

۲_وحی :

له دې لارې به پيغمبرانو له خدای سره اړيکه نيوه او د خدای پيغام به ورته راته .

خدای د نورو پيغمبرانو په هکله خپل وروستي استازي ته وايي : ((وَمَا أَرْسَلْنَا قَبْلَكَ إِلاَّ رِجَالًا نُّوحِي إِلَيْهِمْ ( انبياء/۷)= موږ تر تا مخکې يوازې سړي (چې انسانان او د بشر له جنسه وو،د پيغمبرانو په توګه) لېږلي وو،چې وحې مو ورته کوله. )) (۳۵)

د وحې په هکله يو لړ پوښتنې نوموتېږي،چې موږ يې پر دوو رڼا اچوو :

پوښتنه : آيا وحې يو ډول بشري نبوغ نه دی ؟

ځواب: ځينې،چې نه غواړي له بلې نړۍ سره اړيکه ونه مني؛نو په وحې او ورته مسئلو کې لټې وهي،چې يوه توکيزه مخونه ورته راوړي .

که تاسې د انبياوو د ځانګړونو برخه ولولئ؛نو پوه به شئ،چې د انبياوو او بشري نوابغو تر منځ خورا توپير دی؛له هر ډول شک،سهوې او ګناه څخه عصمت،له غېبو خبرېدل ،سوچه او د زړه له کومې نړه عبادت او هر څه د خدای ګڼل هغه خبرې دي،چې په نوابغو کې نشته؛ځکه نوابغ هم غلطې کوي او هم معصوم نه دي او هم له غېبو خبر نه دي او له الهي عارفانه نړه عبادته لرې دي او څه چې لري؛نو د خدای (ج) له لوري يې نه ګڼي.

مګر موږ نورې نابغې نه لرو؛نو ولې هغوی د قرآن شريف په څېر رانه وړ او نشی کړای رايې وړي ؟

پوښتنه :ولې موږ ته وحې نه کېږي؟

ځواب:هره راډيو،هر چاينل او څپې نه را کاږي. دننني اخلاص، پاکي،تقوا او نور شرطونه پکار دي او بايد زړه الهي وحې او الهام ته چمتو والی ولري .

۳_د غيبو علم

انبياء د غيبو علم لري . په دې هکله قرآن شريف وايي : ((**عَالِمُ الْغَيْبِ فَلَا يُظْهِرُ عَلَى غَيْبِهِ أَحَدًا. إِلَّا مَنِ ارْتَضَى مِن رَّسُولٍ فَإِنَّهُ يَسْلُكُ مِن بَيْنِ يَدَيْهِ وَمِنْ خَلْفِهِ رَصَدًا**(جن/ ۲۶، ۲۷)= (هغه) پر غيبو پوهېږي او هېڅوك د خپلو غيبو (پر رازونو) نه پوهوي؛خو هغه استازی (ترې خبروي)، چې (دې کار ته يې) غوره کړي؛نو په حقيقت کې مخکې او شاته يې ورته ساتونکي ګومارلي دي)) (۳٦)

پوښتنه : د قرآن شريف په آيتونو کې لولو : بې له الله بل څوک د غيبو علم نه لري : ((وَعِندَهُ مَفَاتِحُ الْغَيْبِ لاَ يَعْلَمُهَا إِلاَّ هُوَ)) (۳۷)؛نو ددې آيت په شتون کې،چې د غيبو علم يې يوازې د خدای لپاره ځانګړې کړی دی؛ نو څنګه د غيبو علم د پيغمبرانو او امامانو لپاره جوتولای شئ ؟

ځواب : د غیبو علم یوازې په خدای پورې ځانګړی دی او که پېغمبر (ص) او امام په دې هکله څه معلومات لري ؛نو خدای به ورته ورکړي وي او پېغمبر (ص) او امام له ځانه له غیبو خبر نه وي .

٤_عصمت :

د خدای د استازي (ص) بل امتیاز عصمت دی .عصمت؛یعنې انسان د ایمان،معرفت او بشپړ یقین له کبله د داسې ستر روح خاوند شي،چې په بشپړه ازادی،واک او پوهې ګناه نه کوي ؛بلکې د ګناه په فکر کې هم نه وي.

## د اسماني مشر د عصمت اړتیا

معصوم مشر ته زموږ د اړتیا دلیل زموږ تېروتنې،اندیزې او عملي بې لارې دي؛نو خدای دې انسان له هغه ورځې ساتي،چې مشر هم بې لارې شي؛ځکه په دې بنه به هغه هم معصوم مشر ته اړتیا پیدا کړي او که هغه هم معصوم نه وي؛نو هغه به هم معصوم ته اړتیا پیدا کړي .

څو یادونې :

الف:ځینې د قرآن شریف ځینې آیتونه لوبڅې کول او د پېغمبرانو عصمت ټکنی کوي .موږ چې د قرآن شریف په آیتونو کې کومه څېړنه کړې؛نو سره له دې،چې پېغمبرانو ته وړاندیزونه،خبر او اخطارونه ورکړل شوي؛خو دا یو هم د عصمت له مقام سره منافات نه لري.

ب: پېغمبران نه یوازې په ګروهو او احکامو کې او نه یوازې په کبیره ګناهونو کې؛بلکې په ټولو ګناهګانو کې او نه یوازې په لوی لاس تېروتنو؛ بلکې په سهوي تېروتنو کې هم معصوم وي،چې دښمن ته یوه پلمه هم د دوست د داد د خرابولو لپاره پیدا نشي . په قرآن شریف کې راغلي: ((**فَلِلّهِ الْحُجَّةُ الْبَالِغَةُ**= ټینګ (او غوځ) دلیل خو له الله سره دی)) (۳۸)

ج: عصمت د خدای د استازي له لمونځونو ،مغفرتونو او ژړاګانو سره منافات نه لري ؛ ځکه همداچې د خدای استازی او یا امام ځان د خدای پر وړاندې وګوري؛نو د زړه له کومې یې مني،چې خدای یې له ماغزو او زړه خبر دی او څاري یې او ټولې کړنې یې لیکل کېږي؛نو داسې یو حالت پرې راپېښېږي،هغه کارونه،چې ګناه هم نه وي؛نو شرم پکې احساسوي. د ساري په توګه : که زه په کور کې ټوخی کوم ؛نو نه شرمېږم؛خو چې خلکو ته خبرې کوم؛نو که یو ټوخی هم وکړم؛نو سره له دې،چې دا کار ګناه نه دی؛خو شرمېږم او له خلکو ښنه غواړم؛ځکه ځان د خلکو پر وړاندې وینم؛نو د خدای اولیاء هم،چې ځان د خدای پر وړاندې ویني؛نو ان له خپل کوچني عمله خجالت احساسوي .

د څو پوښتنو ځوابونه

پوښتنه: ولې انبیاء د بشر له جنسه دي ؟

ځواب : یوه نیوکه،چې پر انبیاوو به کېده دا وه ،چې ولې هغوی بشر دی او پرښتې نه دي ؟ حال داچې ددې چارې ښکلا په همدې کې ده،چې انبیاء بشر وي؛ځکه که بشر نه وي؛نو بشر به لانجه کوله،چې انبیاء زموږ له ستونزو او مسایلو خبر نه دي او یوازې فرمانونه راکوي !

انبیاء باید د نورو انسانانو په څېر شهوت او غضب ولري او ځان کابو کړي، چې نورو ته بېلګه شي . خدای خپل استازي (ص) ته وايي : ((**قُلْ إِنَّمَا أَنَا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ** (فصلت/۶) = زه خو ستاسې په څېر یو بشر یم)) (۳۹).

آیا انبیاوو خپله ارماني ټولنه جوړه کړه ؟

ځواب:د خلکو ښیون-ښیون ته د انبیاوو او اسماني قانون راتګ یو ضروري چار دی؛خو د خلکو له لوري د یوې دندې منل بېله خبره ده او ددې دواړو حساب و کتاب سره توپیر لري . د خدای پروګرام داسې نه دی،چې خلک په زور ښیون شي او که داسې وي ؛نو اوس به ټول ښیون شوي ول. ((**وَلَوْ شَاء لَهَدَاكُمْ أَجْمَعِينَ**)) (٤٠)

د خدای د استازي ډانګ په لاس کې نه و او د چا ازادي يې هم له منځه یونړه . (( **لَّسْتَ عَلَيْهِم بِمُصَيْطِرٍ** (غاشیه/۲۲)= ته پر هغوی زورور نه يې (چې ایمان راوړ ته يې اړ باسې) ،)) (٤١) خدای باید خلکو ته د ښیون وسیله چمتو کړي . ((إِنَّ **عَلَيْنَا لَلْهُدَى**(لیل/۱۲)= په یقین چې لارښوونه یوازې زموږ(پرغاړه) ده)) (٤٢).

او خلک هم باید د ښیون منونکي وي؛خو ځینو خلکو ښیون ونه مانه او دا خبره باید ددې لامل نشي،چې د خدای له لوري د نورو د ښیون لړی هم پرې شي؛لکه څنګه چې بنوال کله هم د مرداربوټو له کبله د ټول بڼ د ونو له خړوبولو لاس نه اخلي .

په قرآن شریف کې وایو :**وَإِذْ قَالَ رَبُّكَ لِلْمَلاَئِكَةِ إِنِّي جَاعِلٌ فِي الأَرْضِ خَلِيفَةً قَالُواْ أَتَجْعَلُ فِيهَا مَن يُفْسِدُ فِيهَا وَيَسْفِكُ الدِّمَاء وَنَحْنُ نُسَبِّحُ بِحَمْدِكَ وَنُقَدِّسُ لَكَ قَالَ إِنِّي أَعْلَمُ مَا لاَ تَعْلَمُونَ** (بقره/۳۰) =(هغه وخت درياد کړه) چې ستا پالونکي پرښتو ته وويل:(( زه پر ځمکه ځایناستی، خلیفه (استازی) ټاکم.)) (پرښتو) وویل:(( (پالونکیه!) ایا ته داسې څوك ټاکې،چې فساد او وینه تویه کړي؟ (؛ځکه تر آدمه مخکې ځمکني موجودات پر فساد او وینه تویېدنه ککړ ول،که د دغه انسان له پیدایښته موخه عبادت وي )؛ نو موږ (خو) ستا ستاینه کوو او تا پر سپېڅلتوب ستایو.)) خدای وویل: ((زه چې پرڅه پوهېږم تاسې پرې نه پوهېږ ئ.)) (٤٣) دا خلک دي،چې باید ارماني ټولنه جوړه کړي او که د خدای استازیو ارماني ټولنه جوړه نه کړه؛نو په دې کې د خلکو لټي وه .

پوښتنه : ولې ټول انبیاء په ختیځ کې راغلي دي ؟

ځواب: موږ ته د لویدیځ پخوانی تاریخ روښانه نه دی او موږ هم هېڅ داسې دلیل نه لرو،چې ټول انبیاء په ختیځ کې راغلي دي؛خو د ((**وَلِكُلِّ أُمَّةٍ رَّسُولٌ**)) (٤٤) له آیته په ګټنې ویلای شم،چې هر ملت پېغمبر درلود.

پوښتنه: انبیاء څو تنه ول او پر هغوی ټولو ایمان څه ضرورت لري؟

ځواب :په قرآن شریف کې د پینځه ویش پېغمبرانو نومونه راغلي دي؛ خو د غافر په سورت کې لولو : ((**وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا رُسُلًا مِّن قَبْلِكَ مِنْهُم مَّن قَصَصْنَا عَلَيْكَ وَمِنْهُم مَّن لَّمْ نَقْصُصْ عَلَيْكَ**(غافر/۷۸)= او په یقین موږ تر تا مخکې استازي لیږلي وو،د ځینو قیصې مو درته کړي او د ځینو نه)) (٤٥)

له دې آیته ګټنه کېږي،چې د پېغمبرانو شمېر یوازې دومره نه و،چې په قرآن شریف کې یې نومونه راغلي دي . په روایتونو کې ډول ډول شمېرې ښوول شوي؛چې تر ټولو مشهور یې هغه حدیث دی،چې له حضرت ابوذر غفاري (رض) را نقل شوی،چې وایي : د خدای استازی مې وپوښت :انبیاء څو تنه وو؟راته یې وویل :یو لک او څلورویشت زره. (٤٦) او همداراز د بقرې د سورت د ١٣٦ آیت له مخې او د آل عمران د سورت د ٨٦ آیت له مخې او همداراز د نساء د سورت د ١٠٥ سورت په رڼا کې،پر ټولوانبیاوو ایمان پکار دی او کېدای شي دلیل یې دا وي، چې بعثت یو ناڅاپي مسئله نه ده؛بلکې یو الهي امر او پړاو دی. پر پخوانیو پېغمبرانو ایمان؛یعنې د تاریخ په پوړیو کې پر انسانانو د خدای پر همېشني او تلپاتې پېرزو ایمان درلودل؛د خدای پر ثابت حکمت باندې؛یعنې پر باطل د حق د برلاسېدو ایمان درلودل او پر دې خبره ایمان درلودل،چې په تاریخ کې پر حقه انسانان یوې لورې ته او طاغوت بلې لورې ته و او په دې ټولو پړاوونو کې په پای کې برې د حق و او د باطل پوزه پر خاورو وه او د خدای پر همدې سنت ایمان درلودل، د ودې ،استقامت او پایدارۍ راز دی.

## حضرت محمد (ص) د پېغمبرانو خاتم دی

د اسلام پېغمبر (ص) د پېغمبرانو خاتم او د خدای وروستی استازی دی. په دې اړه قرآن شریف وایي : ((**مَّا كَانَ مُحَمَّدٌ أَبَا أَحَدٍ مِّن رِّجَالِكُمْ وَلَكِن رَّسُولَ اللَّهِ وَخَاتَمَ النَّبِيِّينَ**( احزاب/۴۰) = محمد(ص) ستاسې د هېڅ یوه سړي پلار نه دی؛خو د خدای استازی او د پېغمبرانو(د لړۍ)پای ته رسوونکی دی)) (٤٧).

پوښتنه : ولې د نبوت پړاو پر حضرت محمد (ص) پای ته ورسېد؟

ځواب :نوي پېغمبر ته اړتیا هله پیدا کېږي،چې په پخواني کتاب او دین کې اړونه راشي؛نو د قرآن شریف ان یو ټکی،چې هم نه دی بدل شوی او داسې څه به نه وي،چې قرآن شریف ورته ځواب نه وي ورکړی؛نو نوي پېغمبر ته څه اړتیا ده ؟

که پخواني اسماني کتابونو ته لنډه کتنه وشي؛نو دومره اړونې پکې شوي،چې انسان یې په ویلو شرمېږي.

بلخوا یو نالوستی،چې لرې ځای ته سفر وکړي؛نو دلته بې له دې بله چاره نه لرو،چې کوڅه په کوڅه پته ورته ورکړو؛خو که همدې ځای ته یو لوستی ځي؛نو بسیا ده،چې د یو ټولیز ادرس او د ښار د ونډهې په ورکولو خپله لار پیدا کړي.

د پخوانیو ټولنو خو دومره وده نه وه کړې؛نو کوڅه په کوڅه پته ورته پکار وه؛خو ټولنو چې وده وکړه؛نو که ټولیزه ونډهه هم ورکړ شي؛نو خپله لار پیدا کوي او نبغ لارښود (پېغمبر) ته اړتیا نه پیدا کوي. البته د قانون د ساتنې او پلي کولو لپاره د امامانو او فقهاو شتون پکار دی.

بل مطلب داچې پخوانیو پیغمبرانو(بې له څو تنو)معمولاً کتاب نه درلود او ډېری یې د نورو سترو پېغمبرانو لارښوونې تبلیغولې او داسې نه ول، چې ټول تېر شوي پېغمبران د کتاب خاوندان ول؛نو پر دې بنسټ د امامانو او د متقي اسلام پوهانو په شتون کې بل پېغمبر ته اړتیا نه پیدا کېږي؛ځکه د دین تبلیغ د دین عادل عالمان هم کړای شي؛ځکه نه ښایي،چې د اجتهاد له مسئلې سترګې پټې کړو؛ځکه

عادل فقهاء د اسلام د ټولیزو قوانینو په رڼا کې کړای شي له قرآن شریف او سنتو اسلامي حکم راوباسي.

## د پیغمبر (ص) نړیوال رسالت

د اسلام د پیغمبر (ص) رسالت نړیوال دی؛یعنې په یو ځانګړي وخت پوري ځانګړی نه دی؛بلکې ټولو وختونو او نسلونو ته دی،چې قرآن شریف په پرله پسې توګه دې خبرې ته اشاره کړې ده .
((**وَمَا أَرْسَلْنَاكَ إِلَّا كَافَّةً لِّلنَّاسِ بَشِيرًا وَنَذِيرًا**(سبا/۲۸) = او موږ ته ټولو خلکو ته (د الهي مکافاتو) زیری ورکونکی او (له عذابه یې) وېرونکی لیږلی)) (٤٨).
((**قُلْ يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنِّي رَسُولُ اللهِ إِلَيْكُمْ جَمِيعًا**(اعراف/۱۵۸) = (ورته) ووایه : ((خلکو ! زه تاسې ټولو ته د هغه خدای استازی یم)) (٤٩)
په خپله پیغمبر (ص) هم دې خبرې ته اشاره کړې ده : (( زه د ټولو پیغمبر یم هم د هغوی چې زما په ژوند کې ول او هم هغوی چې تر ما وروسته دي. (٥٠)
پردې سربېره هغه لیکونه،چې رسول اکرم په هغه وخت کې د نورو هېوادونو واکمنانو ته لیږل،د پیغمبر (ص) د رسالت پر نړیوالی دلیل دی.
یوه ورځ پیغمبر اکرم خپل اصحاب راوغوښتل او ورته یې وویل:(( پاځئ او د رسالت استازي شئ او دا غږ نړیوالو ته ورسوئ ...)
او بیا یې د خپل رسالت د رسولو لپاره شپږ تنه یو ایران،روم ، مصر،حبشي،یمامه،بحرین او اردن ته ولیږل . (٥١)